د افغانستان اړوند
خپلواکه
پلټنه

INDEPENDENT INQUIRY
RELATING TO
AFGHANISTAN

اوربدنه – د ۲۰۲۶ کال د اکتوبر ۱۲، دوشنبه
د رییس پرانیستونکې وینا – سهار ۱۰:۰۰ تر ۱۰:۱۵ بجې

<u>ښاغلي لارډ جسټس هډن-کیو:</u>

سهار مو پخیر

۱. مخکې له دې چې د نن ورځې اوربدنه پیل کړو، زه غواړم په دې پرانیستې ناسته کې له دې موکې ګټه واخلم ترڅو د پلټنو د چارو او پرمختګ په اړه یوه ټولیزه خبرتیا وړاندې کړم او پر څو ټکو بیا ټینګار وکړم.

د کاري واکونو او صلاحیتونو چوکاټ

۲. د کاري واکونو چوکاټ له ما غواړي چې د خورا جدي تورونو په اړه پلټنه وکړم او رپوټ چمتو کړم، او زه ټینګار کوم چې دا په دې پراو کې یوازې تورونه پاتې دي، یعنې:

(1) آیا داسې باوري معلومات شته چې د برېتانیا ځانګړو ځواکونو د ۲۰۱۰ کال له نیمایي څخه د ۲۰۱۳ کال تر نیمایي پورې په افغانستان کې د قصدي نیونو د عملیاتو (دې دې او) په ترڅ کې افغان نارینه په قصدي توګه وژلي دي.
(2) آیا په هغه وخت کې څرګندې شوې اندېښنې او شکایتونه په سمه توګه څېړل شوي وو؛
(3) آیا د شاهي پوځي پولیسو ځلور نیم کلنه پلټنه پوره او کافي وه
(4) آیا په کوم پراو کې ناقانونه کړنې پټې کړل شوې دي که نه

۳. باید وپوهېږو چې:

- دا خبره په جګړه کې د یوې شېبې د هغو پربکړو په اړه نه ده چې سمدستي کېږي.
- دا خبره د (د جګړې د ګډوډۍ او ناڅرګند حالت) په اړه نه ده.
- دا خبره د دې په اړه ده چې آیا د SAS ځواکونو په افغانستان کې (د جګړې د عمر لرونکو نارینه وو) د وژلو یو دوامداره دود درلود که نه.

۴. یادونه کېږي چې د (ناقانونه وژنو) دا تورونه پخپله د ځانګړو ځواکونو له منځ څخه راټوکېدلي دي.

د پوځ د لوی درستیزانو، دایمي مرستیال او اصلي برخه والو ملاتړ

۵. زه د پوځ د لوی درستیزانو له دوامداره ملاتړ څخه مننه وی یم، چې په دې وروستیو کې یې بیا ټینګار کړی: (له پلټنو سره همکاري خورا اړینه ده ترڅو ډاډ ترلاسه شي چې دا جدي تورونه په بشپړه او عادلانه توګه وڅېړل شي، او د هغو ارزښتونو او معیارونو درناوی وشي چې وسله وال ځواکونه ورته په پوره حق پابند دي).

۶. زه د ملاتړې اداري په استازیتوب، د دایمي مرستیال جېرمي پاکلېنګټن له ملاتړ څخه مننه کوم، په ځانګړي ډول تر نن ورځې پورې د پلټنو ډلې ته د هغو سرچینو او آسانتیاوو د برابرولو له کبله چې د خپلو کاري واکونو د بشپړولو لپاره ورته اړتیا وه.

۷. زه همدارنګه د اصلي برخه والو د ډلو له سخت زیار او هڅو او د پلټنو له ډلو سره د هغوی له دوامداره او نږدې همکارۍ څخه مننه وی یم.

د ۲۰۲۵ کال له جنورۍ راهیسې د پلټنو چارې

۸. د شاهدانو وروستۍ پرانیستې اوربدنه د تېر کال په جنورۍ کې وه، کله چې مور د لوی امنیه قوماندان الن پیوزلي مسلکي شاهدي واوربده. په دې منځنۍ موده کې د پلټنو ډله خورا ډېره بوخته وه. د پلټنو ډلې د اسنادو خورا پراخه کچه څېړلې ده، د پلټنو بېلابېلې لارې يې تعقیب کړې دي (چې زه به لږ وروسته پر ځینو يې لنډې خبرې وکړم)، او له ۳۰ اوونیو ډېرې د شاهدانو اوربدنې يې تر سره کړې دي – چې د ملي امنیت او د شاهدانو د خوندیتوب او ساتنې په موخه ما امر کړی چې دا ټولې باید په پټه او تر بندو دروازو شا ته وي.

د قصدي نیونو عملیات

۹. د کاري واکونو او صلاحیتونو چوکاټ د دې ښکارندويي کوي چې پلټونکې ډله به د دې درې کلنې مودې په ترڅ کې په سلګونو د قصدي نیونو عملیات (DDOs) وڅېړي، دا مهال پلټونکې ډله د خپلې خېړې شوې درې پراویزي پلټنیزې تګلارې په درېیم پړاو کې ده:

(1) لومړي پړاو د هر جلا قصدي نیونې د عملیاتو یوه ټولیزه بڼه او تشریح، له نښو نښانو او نورو مهمو جزییاتو سره په ګوته کړه؛ لکه د عملیاتو پر مهال د وژل شویو افغان نارینه وو شمېر، د ځانګړو تکتیکونو کارول، او د ثبت شویو وسلو په پرتله د وژل شویو کسانو کچه او تناسب.
(2) دویم پړاو د قصدي نیونو د عملیاتو د یوې ټاکلې برخې لپاره د رسمي کارکوونکو او اداري اسنادو هغه پاڼې وڅېړلې، چې په کې هغه پېښې ثبت شوې وې چې ویل کېدل رامنځته شوې دي.
(3) ۳ الف او ۳ ب پړاوونه د لاسوندونو او شواهدو بشپړه راټولونه او کره ځېړنه، او همدارنګه په دغو پېښو کې د ښکېلو سرتېرو او افسرانو د شاهدۍ بیانونو او شفاهي شاهدیو ترلاسه کول رانغاړي.

د محدودیتونو د امر پربکړې

۱۰. یادونه کېږي چې د روان کال په مۍ میاشت کې، ما یو پربکړه لیک صادر کړ چې د پټو نښو (UKSF1۱) او (UKSF3) پر ځای د (SAS) (د ځانګړو هوايي ځواکونو ځانګه) او (SBS) (د ځانګړو سمندري کښتیو د ځواکونو ځانګه) اصطلاحاتو کارولو اجازه ورکوي. ما دا کار د رونټیا او کره والي له مخې وکړ، ځکه دا ښکاره وه چې د تر بحث لاندې قصدي نیونو د عملیاتو خورا زیاته او ډېره برخه پخپله (SAS) ځواکونو ترسره کړې وه، او دا چې د نومونو مخکې بندیزونه نور د ملي امنیت او نه هم د عامه ګټو لپاره اړین وو.

۱۱. باید وویل شي چې ما د ټولو هغو شاهدانو د پټ پاتې کېدو او د نوم نه څرګندېدو لپاره د محدودیت د امر ساتنه پر ځای ساتلې ده چې پټ کودونه لري، او دا چاره د اوس لپاره په پوره کلکوالي سره پر خپل ځای ده. د پلټنو ډله به په پوره ځیرکتیا سره د رسنیو رپوټونه څاري ترڅو ډاډ ترلاسه شي چې د محدودیت ټول امرونه په کلکه منل کېږي.

د قصدي نیونو د عملیاتو ۳ ب پړاو (DDO Phase 3B)

۱۲. د قصدي نیونو د عملیاتو د 3B پړاو د پلټنو د یوې برخې په توګه، د پلټنو ډلې د (SAS) ډېر شمېر سرتېري په نښه کړي دي چې غواړي د تر بحث لاندې قصدي نیونو د عملیاتو په اړه په مستقیم ډول د هغوی شاهدي واوري، او هر یوه ته يې د معلوماتو ترلاسه کولو لپاره د ۹ مادې غوښتنلیکونه لېږلي دي. د دوی یوې لوبې برخې څرګنده کړې چې غواړي د خپل ځان پر ضد د نه شاهدي ورکولو له قانوني حق ځخه ګټه پورته کړي او د هغو ټولو پوښتنو له ځوابولو يې ډډه کړې ده چې د پلټنو د ډلې له خوا ترې پوښتل شوې دي.

تکتیکونه، تګلارې او کړنلارې (TTPs)

۱۳. پلټونکې ډلې د برېتانیا د ځانګړو ځواکونو د یوې ځانګړې کړنلارې یا (تکتیکونو، تګلارو او چارلارو) کارول څېړلي دي، چې له مخې يې یوه افغان نارینه بندي ته امر کېده او یا ېرته د کلا ودانۍ ته ننه ایستل کېده، په ښکاره توګه په دې پلمه چې د پاتې کسانو په شړلو او ویستلو کې مرسته وکړي.

دا هغه کړنه ده چې ادعا کېږي په بيا بيا توګه د يوې پردې په توګه کارول شوې ترڅو د خلکو له سترګو پټ د جګړې د عمر لرونکي نارينه ووژل شي. پلټونکې ډلې همدارنګه د دې (پاکولو او تصفيې) د چارلارې په اړه د بريتانيا د ځانګړو ځواکونو د يوې خپلمنځې خبرې پلټنه هم کړې ده، چې دا خبرنه د (SAS) او (SBS) دواړو د لوړپوړو غړو ترمنځ د خرګندې شوې اندېښنې په پايله کې شوې وه.

عدلي او تخنيکي خبرې

۱۴. پلټونکې ډلې شاوخوا لس زره (۱۰،۰۰۰) خورا روښانه او باکيفيته انځورونه ترلاسه کړي دي چې د قصدي نيونو د دغو عملياتو پر مهال اخيستل شوي وو، خو داسې ښکاري چې د شاهي پوځي پوليسو د پلټنو برخه نه وو ګرځېدلې. د عدلي پوهنې يو وتلی پوه د هغو ماهرانو د ډلې مشري کوي چې د مرميو د ويشتلو او حرکت پوهنې (باليستيک)، د ويني د څاڅکو د بڼې شننې، د وجود د ټپونو او رنځپوهنې په برخو کې تخصص لري او دا مهال دا انځورونه خبرې ترڅو د شواهدو له مخې د هغوی ارزښت او اهميت وټاکي.

آی ټي ايس ۱ (ITS1)

۱۵. يادونه کېږي چې پلټونکې ډلې داسې شواهد واورېدل چې په ۲۰۱۶ کال کې، د ځانګړو ځواکونو له يو مهم کمپيوټري سرور څخه (چې په ITS1 پېژندل کېږي) معلومات پاک کړل شوي وو، سره له دې چې شاهي پوځي پوليسو ته پوره ډاډ ورکړل شوی و چې دا معلومات به د خبرې لپاره خوندي پاتې کېږي. پلټونکې ډلې وتوانېده چې د (ITS1) سرور د ملاتړې زېرمې (backup) ټيپونه وموميې او ترلاسه يې کړي، او دا مهال يوه ډله د دې ټيپونو ځانګړې تخنيکي او مسلکي شننه کوي ترڅو د هغو معلوماتو ماهيت او ارزښت معلوم کړي چې شايې رنګ کړل شوي وي.

افغاني کورنۍ

۱۶. پلټونکې ډله د هغو افغانو کورنيو د شواهدو په لټه کې ده چې د قصدي نيونو د عملياتو په لړ کې يې خپل نږدې او ګران کسان له لاسه ورکړي دي. زه هوډ لرم چې د راتلونکي کال په پيل کې د هغوی شاهدي په پرانيستو او علني اورېدنو کې واورم.

شکايتونه او اندېښنې

۱۷. پلټونکې ډلې د هغو هممهاله اندېښنو او شکايتونو په اړه د شاهدانو پراخ بيانونه اورېدلي دي چې د بريتانيا د ځانګړو ځواکونو د سرتېرو او همدارنګه د نورو کسانو له لوري د هغې تګلارې په اړه راپورته شوي وو چې (SAS) ځواکونو په يادە شوې موده کې په افغانستان کې د قصدي نيونو د عملياتو د ترسره کولو پر مهال کارولە.

مستقيم اړيکه نيوونکي شاهدان

۱۸. پلټونکې ډله د هغو شاهدانو د بيانونو اورېدو ته دوام ورکوي چې په مستقيم او پټ ډول يې له پلټونکې ډلې سره اړيکه نيولې او د هغو پېښو په اړه يې معلومات شريک کړي چې په هغه وخت کې يې د جګړې په ډګر کې ليدلي، اورېدلي يا تري خبر شوي وو.

۱۹. مور هر هغه څوک هڅوو چې فکر کوي داسې معلومات لري (که هر څومره واړه هم وي) چې ګومان کوي له پلټنو سره مرسته کولی شي، چې مخکې راشي. له پلټونکې ډلې سره د اړيکې نيولو لپاره خوندي او پټې لارې شته چې د پلټنو په وېبپاڼه کې روښانه شوې دي، او د ټولو شاهدانو شخصي خوندیتوب او د نوم پټ پاتې کېدل زما لپاره خورا لومړنی او مهم ارزښت لري.

۲۰. زه له ټولو هغو شاهدانو مننه کوم چې مخکې راغلي دي.

پوځي پوليسو ته د موضوع سپارل

۲۱. لکه څنګه چې تېره اوونۍ په عالي محکمه کې د اوربدنې پر مهال روښانه شوه، د هغو پلټنو په پایله کې چې د پلټونکې ډلې له لوري پیل شوې وې، د دفاع وزارت داسې لاسوندونه په ګوته کړل چې ښیي د بریتانیا د ځانګړو ځواکونو سرتېرو، چې په ځینو تر ځپړنې لاندې عملیاتو کې ګومارل شوي وو، ښایي د ۲۰۰۶ کال د وسله والو ځواکونو د قانون له مخې جدي جرمونه کړي وي. دا موضوع د بریتانیا د ځانګړو ځواکونو د عمومي قوماندانۍ له لوري د یاد قانون د ۱۱۳ مادې پر بنسټ د دفاعي جدي جرمونو قوماندانۍ ته وسپارل شوه، داسې څرګندېږي چې د لومړنیو جاج اخیستنو وروسته، پوځي پولیسو تر هغو پورې په دې اړه هر ډول جنایي پلټنې درولې دي چې د دې پلټونکې ډلې کار پای ته ورسېږي.

(۹۷ میلیونه لاسوندونه)

۲۲. یادونه کېږي چې د دفاع وزارت په دې وروستیو کې په خپل (DAS) غونډال کې د ۹۷ میلیونو لاسوندونو د موندلو خبر ورکړ، دا یو ډیجیټلي زېرمتون دی چې بربښنایي معلومات په کې خوندي او ساتل کېږي. د دفاع وزارت مدافع وکیل ماته ډاډ راکړ چې یوازې د دغو لاسوندونو لړې برخه ښایي له قضیې سره احتمالي تړاو ولري، او د دې ډیټابېس د لټولو او ځپړلو لپاره بېړني ګامونه پورته کېږي. ما لارښوونه کړې ده چې د روانې اوونۍ د جمعې په ورځ په سهار ۱۰:۰۰ بجو باید په یوې پرانیستې ناسته کې تازه معلومات وړاندې شي، ترڅو پلټونکې ډله او عام خلک له هغو ګامونو او پرمختګونو خبر شي چې د دفاع وزارت په دې برخه کې کړي دي.

د ناقانونه وژنو د شواهدو د بشپړولو وروستۍ نېټه – د ۲۰۲۷ کال اپرېل

۲۳. له هغو څرګندونو چې ما وړاندې کړې دا به روښانه شي چې د پلټونکې ډلې د دندې او ځپړنو کچه تر هغه څه خورا پراخه او پېچلې ده چې په پیل کې یې اټکل کېده. دا به هم په ډاګه شي چې په هر حالت کې د ربښتینو حقایقو موندلو ته پوره پام اړول خورا اړین او ارزښتناک دي.

۲۴. د راتلونکو څو میاشتو په ترڅ کې، پلټونکې ډلې په پرانیستو او پټو ناستو کې د نورو ۱۶ اوونیو اوربدنې په لست کې شاملې کړې دي.

۲۵. ما د (ناقانونه وژنو) د تورونو اړوند د شواهدو او شاهدیو د بشپړولو لپاره د راتلونکي کال د اپرېل ۳۰ وروستۍ نېټه ټاکلې ده، ما دا خبره روښانه کړې ده چې د دې ټاکل شوې نېټې مراعاتول حتمي دي.

۲۶. لکه څنګه چې ما وویل، دا به د پخوانیو سرتېرو، برحاله سرتېرو او افسرانو، د هغوی د کورنیو او یا د افغانو کورنیو په حق کې انصاف نه وي چې د پلټنو بهیر د اسانتیاوو د کمښت یا د کاري ځنډ له امله نور هم وځنډېږي.

لنډیزونه (Gists)

۲۷. هیله من یم چې دا لنډ معلومات به ګټور ثابت شوي وي، پلټونکې ډله هر کله چې شونې وي او له ملي امنیت سره په ټکر کې نه وي، په پټو غونډو کې د شاهدانو د وړاندې شویو شواهدو د لنډیزونو خپرولو ته دوام ورکوي. دا لنډیزونه د دې لپاره خورا مهم دي چې عام خلک د پلټنو پر بهیر او وړاندې شویو شواهدو ښه وپوهېږي. په دې چاره کې د پلټنو او د دفاع وزارت د ډلو میاشتې میاشتې سخت زیار او ګډې هڅې شاملې دي ترڅو ډاډ ترلاسه شي چې ملي امنیت، عملیاتي حساسیتونه، او د شاهدانو د هویت پټ پاتې کېدل او خوندیتوب خوندي دي.

زه پوهېږم چې د شواهدو د لنډیزونو چمتو کول، ارزول او پر هغو موافقه کول ډېر وخت او لوبو اسانتیاوو ته اړتیا لري، سره له دې هم، زه غواړم چې دا بهیر په لا چټکۍ او ښه والي پر مخ ولاړ شي، او د هر ډول ځنډ مخه ونیول شي.

نړیواله جنایي محکمه (ICC) او ناټو (NATO)

۲۸. په پای کې، اجازه راکړئ د څو وروستیو لیدنو کتنو یادونه وکړم، د سپټمبر په میاشت کې، ما یو ځل بیا نړیوالې جنایي محکمې ته (چې بریتانیا پې غړی هېواد دی) سفر وکړ ترڅو د څارنوالۍ دفتر ته د پلټنو د دوامداره پرمختګ په اړه تازه

معلومات وړاندې کړم او د بشپړونکي اصولو (Principle of Complementarity) سره سم ډاډ ورکړم چې د برېتانیا د حکومت له لوري ګومارل شوې دا پلټونکې ډله خپلو خبرنو ته په پوره خپلواکۍ او ټینګښت سره دوام ورکوي.

۲۹. زه همدارنګه یو ځل بیا بروکسل ته لاړم ترڅو د ناټو په عمومي قوماندانۍ کې لیدنې کتنې ترسره کړم، په شمول د سرمنشي، مارک روټه د دفتر سره. زه د پلټونکې ډلې په ملاتړ کې د هغوی له پرېکنده او څرګند دریځ څخه مننه‌وی یم، او همدارنګه د هغو پراخو هڅو مننه کوم چې د ناټو د اسنادو او آرشیف ډلې له لوري د هغو لاسوندونو د موندلو لپاره روانې دي چې ښایي د پلټونکې ډلې له کاري واکونو او صلاحیتونو سره تړاو ولري.

شاهي پوځي پولیس (RMP)

۳۰. اوس د نن ورځې چارو ته راګرځو: د شاهي پوځي پولیسو (RMP) د دغو اوربدنو لپاره چمتووالي ډېر وخت، پرېمانه هڅې او شپه او ورځ زیار غوښتی ترڅو ډاډ ترلاسه شي چې اړوند مواد او لاسوندونه په پرانیستې ناسته کې په مناسب ډول وڅېړل شي.

زه غواړم د ټولو لورو له هغو کسانو مننه وکړم چې زیار یې ایستلی ترڅو ډاډ ترلاسه شي چې د دغو اوربدنو لوبه برخه د ټاکل شوي مهالوېش سره سم پر مخ ولاړه شي؛ ما د شاهي پوځي پولیسو د یو لږ شمېر شاهدانو اوربدنه وځنډوله، ځکه د هغوی د شواهدو د ملي امنیت اړوند حساسیتونو د سمې ارزونې لپاره وخت پای ته رسېدلی و، او همدارنګه دا مناسبه او منطقي وه چې هغوی راتلونکی کال د شاهي پوځي پولیسو له پاټې شاهدانو سره یوځای د یوې ډلې په توګه واوربدل شي.

۳۱. مورِ به اوس د شاهي پوځي پولیسو د هغې پلټنې په تړاو چې د (نارتمور عملیات-NORTHMOOR) نومېږي د شاهدانو پرانیستې شاهدي او بیانونه واورو، او دا اوربدنې به نېردې د دریو اوونیو لپاره دوام ومومي چې روانه اوونۍ او ورپسې د اکتوبر د ۲۶ او د نومبر د ۹ نېټې اوونۍ رانغاړي.

ښاغلی ګلاسګو